**د ۲۶۷۸ (۲۰۲۲) شمیرې پریکړه لیک**

**د امنیت شورا په ۹۲۸۳مه غونډه کې د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۱۶مه نیټه تصویب شو**

د امنیت شورا، د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پریکړه لیکونو په ځانګړې توګه د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک په پام کې نیولو سره د ۲۰۲۳ کال د مارچ د میاشتې تر ۱۷ مې نیټې پورې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت تمدیدوي.

پر هغه مهم رول ټینګار سره چې ملګري ملتونه به په افغانستان کې د سولې او ثبات ودې ته ادامه ورکوي، د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او یووالي ته خپله قوي ژمنه څرګندوي او دافغانستان له خلکو سره پر خپل دوامدار ملاتړ ټینګار کوي.

۱. د افغانستان له خلکو څخه د ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو د اوږدمهاله ژمنو ستاینه کوي او د یوناما او دملګرو ملتونو د ځانګړې استازې له کار څخه بشپړ ملاتړ څرګندوي او همدارنګه په سیمه کې د دوامداره شتون پر اړتیا ټینګار کوي.

۲. د د ندو په تر سره کولو اود ټاکل شویو لومړیتوبونو په برخه کې د یوناما د روانو هڅو هر کلی کوي.

۳. پریکړه کوي چې د یوناما ماموریت د ۲۰۲۴ کال د مارچ میاشتې تر ۱۷مې نیټې وغځوي چې په ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک کې تعریف شوی دی.

۴. د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نوروسازمانونو، صندوقونو او پروګرامونو په دوامداره حیاتي حضور ټینګار کوي او د افغانستان اړوند له ټولو لوبغاړو، ښکیلو سیاسي کړیو او له نړیوالو ښکیلو لوبغاړو غوښتنه کوي تر څو د دې ماموریت په اجرا، د دې سازمان د کارکوونکو د تګ راتګ پر ازادۍ او امنیت له یوناما سره همغږي وکړي.

۵. د ملګرو ملتونو له سرمنشي څخه غوښتنه کوي چې هر درې میاشتې یو ځل د افغانستان د وضعیت په اړه او دیوناما د ماموریت پر تطبیق شورا ته راپور ورکړي.

۶. پریکړه کوي چې موضوع ته په فعاله توګه رسیدګي کوي.